# د مولانا عبدالمجید افغاني شخصیت، کار او زیار

## "Life and Work of Abdul Majeed Afghani"

Jamshaid Khan ٭

**Abstract:**

Pashto soil has the Potentials to produce men of caliber. Abdul Majeed Afghani was one amongst them. He was born in *1870* in Batai (Bajur), he was utmankhel Alizai by caste. Abdul Majeed Afghani has Tremendous Services in the Field of Pashto Literature, history, culture etc. He has authored a humber of books reflect his intellectuality, in this Paper his life and works will be discussed and analyzed in dept."

**Keywords:** Pashto Literature, Pashto Poetry,Abdul Majeed Afghani,history,culture

مولانا عبدالمجید افغاني صیب په قام قبیله اتمانخېل علیزے په کال ۷۲-۱۹۷۰ء کښې په باجوړ (بټائي علاقه کښې او دل خېل په اودل خېل کښې ببخېل علیزے اتمانخېل دے) کښې پیدا شوے دے. "افغاني" لفظ ئې تخلص دے. او کله کله "باجوړے" او هم "سعدي" تخلص راوړي. د پلار نوم ئې عبدالغفور دے. دا د نابغۀ روزګار شخصیتن د دیني او شرقي علم حاصلولو د پاره هندوستان آګرې ته لاړو او هلته ئې د اسلامي مدرسې نه علم حاصل کړو. هندوستان ته تګ (سفر) او هلته علم حاصلول عبدالمجید افغاني صیب ډېر په سخت او مشکل حالاتو کښې ترسره کړي دي. دے ډېر غریب وۀ. په دې اړه پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک وائي:

> "عبدالمجید افغاني صیب په هندوستان کښې علم ډېر په ګرانه حاصل کړے دے، ځکه چې د باجوړ نه په کوم کړاؤ او په کوم سخت شان هندوستان ته تلے وۀ، نو هغه وخت کښې عبدالمجید

٭ Ph.d scholor Pashto department university of Peshawar

افغاني ډېر زيات د غربت په حالت کښې تر دې چې په پښو ئې پېزار (څپلۍ) هم نۀ وۀ ـ نو د جامو (کپړو) ئې هم ډېر ضعيف حال وۀ يعنې ډېر په بده ورځ وۀ ـ"[1]

عبدالمجيد افغاني په هندوستان آګره کښې علم ځاصل کړو او په آګره کښې ئې وادۀ هم اوکړو ـ داسې چې:

"مولانا پروفیسر عبدالمجید افغانی سعدی باجوڑی کمال کی شخصیت تھے۔ نابغہ روزگار اور بے مثال 1970ء میں باجوڑ میں پیدا ہوئے۔ علم دین کے حصول کے لیے آگرہ ہندوستان چلے گئے۔ مولانا مفتی سعادت اللہ آگرہ کے گھرانے میں شادی کی۔"[2]

ژباړه: "مولانا پروفېسر عبدالمجيد افغاني سعدي باجوړي يو باکماله شخصيت وۀ ـ دا نابغۀ روزګار او بې مثال په ۱۹۷۰ء کښې په باجوړ کښې پېدا شو ـ د ديني علومو حاصلولو د پاره آګرې هندوستان ته لاړو ـ د مولانا مفتي سعادت الله د آګرې په کورنۍ کښې ئې وادۀ اوکړو ـ"

افغاني صېب ځکه د هر چا خوښ او په هر چا ګران دے چې مولانا عبدالمجيد افغاني ډېر د حساس طبيعت خاوند وۀ ـ او په ګوګل دننه زړۀ ئې د دردونو سمسور باغ وۀ ـ لکه داسې چې:

"مولانا عبدالمجيد ـ ـ ـ ـ ـ ـ په قام اتمانخېل، يو عالم او د يو خوږمن او دردمن زړۀ خاوند وۀ ـ"[3]

مولانا صېب چې کله د علم د حاصلولو نه پس حېدر آباد دکن ته لاړو هلته خوښ نۀ شو، نو بيا پېښور ته راغلو ـ دلته په پښتونخوا کښې ئې ډېر لوے شخصيت درلودۀ لکه داسې چې:

"د صوبه سرحد (خيبر پښتونخوا) علم پروره شخصيتونو کښې مولانا عبدالمجيد سعدي غټ مقام لري ـ"[4]

په هر حال عبدالمجيد افغاني ته په هندوستان کښې د علومِ شرقيه حاصلولو نه پس په پېښور ښار کښې د اعلى عهدې سپارښتنه اوشوه ـ داسې چې:

"مولانا عبدالمجید مرحوم د باجوړ سـیمې په یوه علمي کورنۍ کښې د کال ۱۸۷۲ء لګ بګ پېدا شو ـ د آګرې (هندوستان) په یوه درسګاه کښې د علومِ شرقیه حاصلولو نه پس د پېښور په مشن کالج کښې د فارسۍ او اُردو پروفېسر مقرر کړے شو ـ"(5)

هسې خو شاعر او ادیب عبدالمجید افغاني په نثر او نظم دواړو ښۀ دسترس لرۀ ـ شاعري ئې ډېره د اعلی درجې ده خو چونکې د نورو شاعرانو په نسبت کمه ده ـ خو بیا هم د کلام نه ئې داسې معلومېږي چې ډېر ښـۀ، پوخ او لوے عالم وۀ ـ د دۀ د لیک پحقله همېش خلیل صېب لیکي چې:

"د پښـتو او اردو دا مسـتند سـوانح نګار او شـاعر د پاک مذاق او شُسته تحریر سره سره د اُردو، فارسۍ او عربۍ جید عالم وۀ ـ د اُردو او پښـتو ډېر نظمونه او غزلې ئې هم لیکلي دي ـ د دوي د تحریر شُستګي او بیان انداز د ادبي ذوق او علمیت آئینه دار دي ـ"(6)

د عبدالمجید صېب یو لوے نظم چې د دۀ د ښائسته بیان، ادبي ذوق، اعلی مقام د فکر الوت او علمیت اندازه ترې ډېره په ښۀ شان کېږي ـ نظم داسې دے چې:

"رنګ په رنګ ګلونه"

خلق وائي چرته پته ښـه صـحرا ده
تـولـه ډکـه د ګـلـونـو نـه بـېـدیـا ده
پـه هـر لُوري د رنګونو یـو بـاران دے
هـر یـو بـوټے د هغې ګـل خـنـدان دے
هـره ونـه پـکښــې ونـه د طُـوبیٰ ده
هر یو ښــاخ ئې لکـه څانګـه د لیلیٰ ده
هـره پـاڼـه ئـې د خـوږ زړګـي دوا ده
هر یو ګل ئې د شـیرین د خولې خندا ده
په هر شـاخ کښـې دي مېوې په امبارونو

پکښــې ناســتې دي بلبلې په ســېلونو
په هر ځاے کښــې د ګلونو دي باغونه
هر طرفتــه د خوشــبو دي درمنــدونــه
هر ګــل بوټے لکــه نــاوې ده ســـمبالــه
چــاتــه نــۀ ګــوري ولاړه ده لــه خــيــالــه
پــه هوا کښــې غورېدلي دي شـــالونــه
کوز پــه زمکــه د بخملو دي فرشـــونــه
پــرې ورېــږي تــل د مــيــنــې بــارانــونــه
هم د مينې دي روان پکښــې رودونــه
د ولــو پــه غــاړه ســـروې دي قــطــارې
لکــه ځي چې ښـــاپېرۍ چرتــه پــه لارې
د قدرت پکښــې روان دي ښــۀ سيندونه
د چــپــو نــه ئــې راخــېــژي ســـرودونــه
د خود رو ګلونو ډک دي کهســـارونــه
د قــدرت لاســـو کــرلــي دي بــاغــونــه
د رحــمــت لــړه خــوره ده پــه ســـرونــو
د ژونــدون چــيــنــې بــهــېــږي د رګــونــو
ټــولــو غــرونــو دي لــمــنــې خــورې کــړې
ترېنــه خېژي د عنبرو تورې شـــخړې
خزان نــۀ لري همېش پــه دوي بهــار دے
هــر طــرفــتــه د بــلــبــلــو يــو چــغــار دے
رڼــا ورځې د موســٰی ☐ د غرۀ رڼــا ده
توره شــپه ئې د وصــال له شــپې ســېوا ده
د غمونو پکښــې نشـــتــه هیڅ ســُوران
نــۀ بېلتون نــۀ جــدائي شـــتــه نــۀ هجران
نــۀ پوهېږم چې بــه چرتــه دا صـــحرا وي

په دې زمکه په اسمان به دا دنیا وي
کله کله چې زۀ تنګ شم په سودا شم
دې خپل خوږ زړګي ته پټ پټ په ژړا شم
ورته وایم اے نادانه راشه پرېږده
د غم کور دے دا دنیا هورې ته لېږده
په دې باغ کښې د وفا ګلونه نشته
چې پکښې وو اوس هغه مخونه نشته
چې بلبلې د دې باغ وې تولې لاړې
خوشې ډېرې په مېرو کښې دي خراړې
هغه باغ چې ښائسته وۀ په یارانو
په هر ځاے کښې دي اوس جالې د زاغانو
چې پرې سترګې خوږېدې اشنایان لاړۀ
چې په زړۀ پورې وو پورې یاران لاړۀ
دمه ځاے د سترو زړونو نشته وران دے
ډېرې خوشې دي پرتې ترې کاروان دے
ځه چې ځو د دې ناخوښ کلي له غمه
چرته اوګرځو په غرونو او په سمه
د دنیا غمونه وغورځوه شاته
د کوه قاف له غرۀ واوړو هغه خواته
چې لېږ وګورو هغه کومه دنیا ده
خلق وائي چرته پټه ښه صحرا ده[7]

عبدالمجید افغاني د کلاسیکي شاعرۍ غړے دے او هم ئې ډېر نثري کتابونه لیکلي دي - په نثر کښې تر اوسه د اتمانخېل قبیلې په شاعرانو او ادیبانو کښې اول عبدالمجید افغاني سوانح عمري لیکلې ده - په دې حقله همېش خلیل صیب لیکي:

"عبدالمجید افغاني د سـر صـاحبزاده عبدالقیوم خان د ژوند په حالاتو هم په اول ځل یو جامع کتاب اولیکلو ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ د پښتو او اُردو دا مستند سوانح نګار او شاعر شُسته تحریر سره سره د اُردو ، فارسۍ او عربۍ جید عالم وۀ ۔"(8)

محمد افضـل رضـا د عبدالمجید افغاني صـېب د نثر پحقله خپله رائے داسې څرګندوي:

"ادبی دنیا میں سعدی افغانی ------ بہت سی درسی کتب لکھیں۔"(9)

ژباړه:"ادبي دنیا کښې سعدي افغاني ۔ ۔ ۔ ۔ ډېر تدریسي کتابونه لیکلي دي ۔"

عبدالمجید افغاني د پښتو ادب د ترقۍ او په بام ختلو د پاره د زړۀ د اخلاصه قلم په مینه مینه چلولو ۔ په دې اړه محمد شفیع صېب لیکي:

"مولانا عبدالمجید سعدی افغانی--- وہ پشتو ادب کے فروغ سے گہری دلچسپی رکھتے تھے چنانچہ انہوں نے پشتو کا نصاب مدون کیا ۔"(10)

ژباړه: "مولانا عبدالمجید ۔ ۔ ۔ ۔ هغۀ د پښـتو ادب د ترقۍ د پاره ډېره دلچسـپي لرله ۔ په دې وجه هغۀ د پښـتو نصـاب مدون (ساز) کړو ۔"

همدغه شان همېش خلیل صېب لیکي چې:

"مولانا صـېب ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ د "رهبرِ اخلاق" په نوم ئې د طالب علمانو د ذهني او اخلاقي اصـلاح د پاره د پینځم صـنف نه تر اتم صنف د پښتو درې کتابونو کورس اولیکلو چې وروستو بیا صوبه سرحد (خیبر پښتونخوا) سکولونو د پاره منظور کړے شو ۔"(11)

افغاني صـېب د سـر صـاحبزاده عبدالقیوم خان ډېر نزدې ملګرے او په همنشـینو کښې وۀ ۔ هر کله چې صاحبزاده عبدالقیوم خان وفات شو ۔ د دۀ په ماتم د ټولو نه مخکښې

عبدالمجید افغاني قلم اوچت کړو او لیکل ئې پرې اوکړل ـ

"مولانا عبدالمجید خان افغانی ـ ـ ـ ـ ـ بہر حال ایک قومی دردمند رہنما اپنی قوم کے لیے جو کچھ کرسکتا تھا اس نے کیا اور میں دعویٰ کے ساتھ کہہ سکتا ہوں کہ جو کچھ اُس نے قلیل عرصے میں کیا آج تک کسی ہندوستانی رہنما نے نہیں کیا۔ کانگریس ہندوستان میں وہ سرگرمی پچاس سال میں پیدا نہ کرسکتی جو صاحبزادہ کی پیدا کردہ روح نے چند ہی سال میں پیدا کی۔"(12)

ژباړه: "په هر حال یو قومي دردمند مشـــر د قوم د پاره چې ئې څهٔ کول هغه ئې اوکړل ـ زهٔ په دعوې سره وایم چې څهٔ هغهٔ په دې کمه موده کښې اوکړل تر ننه پورې یو هندوستاني مشر نهٔ دي کړي ـ کانګرېس په هندوستان کښـــې هغه ســـرګرمي په پنځوســـت کاله کښـــې پیدا نهٔ کړي ـ هغه د صـــاحبزاده پیدا کړے شـــوي روح په څو کالو کښې پیدا کړې ـ"

د عبدالمجید افغاني د نثر چې کوم کتابونه چاپ دي هغه دا دي:

- "رهبرِ اخلاق" د درسي کورس څلور ټوکه(اُردو)
- "حیاتِ جمالي" (د سید جمال الدین افغاني سوانح (اُردو)
- "تاریخِ افاغنه" (درې ټوکه، په اُردو ژبه)
- "صاحبزاده عبدالقیوم" (سوانح په اُردو ژبه)

دغه ټول آثار شائع شوي دي ـ"(13) چې ډېر ښهٔ او د اعلیٰ پائے لیک دے ـ بیا په دې ټولو نثري کتابونو کښـــې تر ټولو ښـــهٔ او معیاري کتاب "جمال الدین افغاني" نومي کتاب دے په دې اړه صدیق الله رشتین صبب لیکي چې:

"عبدالمجید افغاني ـ ـ ـ ـ ـ خو د دهٔ تر ټولو مشـــهور اثر (جمال الدین افغاني) نومېږي ـ دا کتاب ئې لومړے په اُردو اولیکهٔ

ـ بيا ئې د خان محمد سمين خان په سپار ښتنه په پښتو واړاؤ ـ ـ ـ ـ
په سر کښې د اسلام د جګړو پرېوتو په باب يوه درنه سريزه هم لري
ـ دا کتاب په پښتو نثر يو قيمتي کتاب وۀ ـ د سيد په باره کښې د
پښتو ژبې لومړی تذکره ده چې ځلوېښت کاله پخوا ۱۹۲۱ء کال په
(آګره) کښې چاپ شوې ده ـ د دې کتاب نثر خوږ او په زړۀ پورې
دے نو ځکه مولوي عبدالمجيد ته د پښتو ژبې د اوسنۍ دورې يو
ښۀ نثر ليکونکے وايو۔"(14)

مولانا عبدالمجيد افغاني صېب د سيد جمال الدين افغاني صېب په باره کښې د پښتو ژبې وړومبۍ تذکره ليکلو سره سره د اتمانخېل قبيلې په باقاعده توګه وړومبے تذکره نګار بلکې نثر نګار هم دے ـ

د مولانا صېب د لوے پښتون سر صاحبزاده عبدالقيوم خان د دوستۍ، صلاح کارۍ نه علاوه يعني د مذکوره شخصياتو د دوستانو نه علاوه نور ډېر غټ غټ شخصيات په شاګردانو کښې شمېر (شمار) دي ـ لکه امير حمزه شينواري، دوست محمد خان کامل مومند ، پُردل خان خټک او ادا کار پرتهوي راج او داسې نور هم ډېر ـ

عبدالمجيد افغاني د ډېرو شخصياتو استاذ وۀ چې د دوي د فکر رهنمائي به ئې کوله ـ او د دۀ شاګردانو به د دۀ ډېر احترام کولو ـ د مولانا صېب د علم ذوق په خلقو کښې د هر قسمه مذهب والا شامل وو ـ لکه داسې

"پشاور میں مولانا۔۔۔۔۔۔وہ ایک نامور مصنف تھے اور کامیاب
معلم۔ ان کے مداحوں کا حلقہ بہت وسیع تھا۔ ان میں مسلمان بھی تھے تو
ہندو سکھ اور عیسائی بھی۔"(15)

ژباړه: "په پېښور کښې مولانا ـ ـ ـ ـ هغه يو نامور مصنف
وۀ او کامياب استاذ ـ د دۀ د مداحو حلقه ډېره وسيع وه چې پکښې
مسلمان، هندو، سکه او عيسايان هم شامل وو۔"

د هندوستان مشهور فنکار پرتهوي راج هم د مولانا عبدالمجيد افغاني شاګرد وۀ

ـ چې په مولانا صیب ډېر مئین وۀ چې ورسره ئې د مینې اندازه داسې لږې چې:

"مشہور اداکار پرتھوی راج ان کے شاگرد رہ چکے تھے۔ جب کبھی پشاور آتے مولانا کے ہاتھ چوما کرتے۔"(16)

ژباړه: "مشهور اداکار پرتهوي راج د دۀ په شاګردانو کښې وۀ ـ چې کله به پېښور ته راتلو نو د مولانا صیب لاس به ئې ښکلولو۔"

مولانا عبدالمجید افغاني صیب ډېر لوے شخصیت درلود ـ او ډېره لویه پوهه ئې لرله ـ حمزه بابا به ترېنه د تزکیۀ نفس او شعر و ادب فیض هم حاصلولو ـ

"جب حمزہ شینواری اپنے شیخ کی صحبت میں شامل ہوئے تو ان سے اور کبھی کبھار پروفیسر عبدالمجید افغانی سے بھی اصلاح لیا کرتے۔"(17)

ژباړه: "کله چې به حمزه بابا د خپل شیخ په صحبت کښې شامل شۀ نو د هغۀ نه او کله کله د پروفېسر عبدالمجید افغاني نه هم اصلاح اخستله ـ"

د تزکیۀ نفس د اصلاح نه علاوه به حمزه بابا خپله شاعري هم عبدالمجید افغاني ته د اصلاح د پاره وړاندې کوله ـ په دې اړه حمزه بابا پخپله وائي چې:

"میں ابتداء میں اپنے شیخ سے اور کبھی کبھار افغانی (مرحوم) کو بھی اپنی غزل اصلاح و تصحیح کے لیے پیش کیا کرتا تھا۔"(18)

ژباړه: "زۀ په وړومبي کښې د خپل شېخ نه او کله کله به مې افغاني (مرحوم) ته هم خپل غزل د اصلاح او تصحیح د پاره پېش کولو ـ"

هغه شخصیت چا چې په پښتو ژبه او ادب ډېر احسانونه کړي دي او یو عظیم څېړنکار، محقق او نقاد دوست محمد خان کامل مومند دے چې ئې ورپسې هڅو اسلامیه

کالج هم پرېښــودو ـ هر کله چې افغاني صــېب اېډورډز کالج ته بدل کړے شــو نو کامل صېب اېډورډز کالج ته ورپسې لاړو او هلته ئې داخله واخسته ـ لکه داسې چې:

*"پشتو کے عظیم محقق دوست محمد خان کامل مولانا افغانی کے شاگرد تھے اور انہی کی خاطر اسلامیہ کالج چھوڑ کر ایڈورڈز کالج میں داخلہ لیا تھا۔"*(19)

ژباړه: "د پښــتو عظیم محقق دوســت محمد خان کامل د مولانا افغاني شاګرد وۀ ـ نو په دغه خاطر ئې اسلامیه کالج پرېښود او اېډورډز کالج کښې ئې داخله اخستلې وه ـ"

دغه شــان ئې د نورو ډېرو شــخصــیاتو نه علاوه پُردل خان خټک هم شــاګرد دے ـ حاجي پُردل خان خټک د خوشــحال بابا دیوان نومي کتاب "دیوانِ خوشــحال خان خټک (حصه اول)" کښې لیکي چې:

"د دې کتاب د تیارۍ په وخت کښــې زما په وړاندې درې نسخې (دوه چاپي او یوه قلمي) پرتې وې ـ په دې چاپو نسخو کښې یوه په کال ۱۹۲۹ء کښــې چهاپ شــوې ده او د هغې ځائے تاجر کتب میا حاجي عبدالرحمان صاحب شائع کړې ده ـ په دې نسخه زما ډېر ګران او فاضـل اسـتاد پروفېسـر حضرت مولانا عبدالمجید سعدي افغاني یوه مختصــره خو ډېره عالمانه او مفیده مقدمه هم لیکلې ده ـ"(20)

عبدالمجید افغاني صېب په خپل وخت کښې د هغه لیکوالو په صف (قطار) کښې ولاړ دے چې د ادب بنیادي ترقۍ تقاضې تر ډېره حده پورې کوي ـ

د پنځم نه تر اتم جومات ټولګي پورې ئې د پښــتو درســي کتابونو کورس لیکلے وۀ چې په دې ســره به د طالبعلمانو ذهني او اخلاقي اصــلاح کېدله ـ د دې کتاب نوم "رهبرِ اخلاق" وۀ ـ دغه شان ئې په اردو ژبه کښې "حیاتِ جمالي" نومي کتاب اولیکلو چې پکښې

ئې د سید جمال الدین افغاني صېب د ژوند حالات لیکلي دي چې تذکره بللې شي ـ د پښتنو تاریخ ئې په دریو جلدونو کښې په اردو ژبه لیکلې دے ـ چې "تاریخ افاغنه" نومېږي ـ مولانا صېب د خپلې زمانې یو پاک نفسه او بزرګ شخصیت وۀ ـ د پښتو او اردو ادب د لیک سره سره د فارسۍ او عربۍ یو لوے عالم هم وۀ ـ د دې ثلور واړو ژبو د ادبي ذوق او علمیت د مولانا صېب د لوے شخصیت او ادبیت آئینه دار دے ـ

د مرګ نېټه ئې مختلف لیکلې شوې ده ـ

افضل رضا صېب ئې د مرګ نېټه ۱۹۴۳ء ښائي داسې چې:

"پشتو فارسی کے علاوہ اردو میں بھی شعر کہتے تھے۔ ادبی دنیا میں سعدی افغانی۔۔۔ 1943ء میں انتقال کر گئے۔"(21)

ژباړه:"د پښتو فارسۍ نه علاوه په اُردو کښې هم شعر وئیلو، په ادبي دنیا کښې سعدي افغاني ـ ـ ـ ـ ۱۹۴۳ء کښې وفات شو ـ"

محمد شفیع صابر ئې د مرګ نېټه ۱۹۴۸ء ښائي داسې چې:

"مولانا عبدالمجید سعدی نے 1948ء میں پشاور ہی میں وفات پائی اور ولی محمد بابا کے قبرستان میں دفن کیا گیا۔"(22)

ژباړه: "مولانا عبدالمجید سعدي په ۱۹۴۸ء کښې په پېښور کښې وفات شو او د ولي محمد بابا په مقبره کښې خاورو ته اوسپارلے شو ـ"

په اسمان لکه د ستوري ځلېدونکے دا لوے شخصیت استاذ، شاعر او ادیب د دې فاني دنیا نه په کال ۱۹۴۷ء کښې لاړو ـ الله تعالیٰ دې ورله په جنت الفردوس کښې اعلیٰ مقام ورکړي ـ آمین

---

# حوالې


1) مغموم، یار محمد ، ډاکټر، پروفېسر، "خټک" سره مرکه، پېښور یونیورسټي پښتو اکېډیمي، نېټه: ۲۰۱۹ء-۹-۸

2) فصیح الدین، پی-ایس-پی، "صحراں میں آذان، (خامہ بہ جوش)"، ریسرچ لائبریری پشاور، فرمان منزل بالمقابل فاٹا سیکر ٹریٹ ورسک روڈ پشاور، اشاعت سوم، مئی 2017ء، ص 255

3) رشتین، پوهان صدیق الله، "د پښتو نثر هنداره"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، س ن، مخ ۹۸-۲۹۷

4) صابر، محمد شفیع، "شخصیاتِ سرحد"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، س ن، مخ ۹۸-۳۹۷

5) خلیل، همېش، "پښتانۀ لیکوال" (اول ټوک)، پبلک آرټ پرېس پېښور، اپرېل ۱۹۶۱ء، مخ ۶

6) خلیل، همېش، "پښتانۀ لیکوال" (اول ټوک)، اباسین پرنټنګ پرېس جنګي محله پېښور، جولائي ۲۰۱۰ء، مخ ۲

7) همدغه اثر، مخ ۲۳-۲۰

8) خلیل، همېش، "پښتانۀ لیکوال" (اول ټوک)، اباسین پرنټنګ پرېس جنګي محله پېښور، جولائي ۲۰۱۰ء، مخ ۲۰-۱۹

9) رضا، محمد افضل، پروفیسر، "(اُردو ادب کی قدیم) پشتو شعراء"، ملت ایجوکیشنل پرنٹرز لاہور، س ن، 1998ء، ص ۱۲۱

10) صابر، محمد شفیع، "شخصیاتِ سرحد"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، س ن، مخ ۳۹۷

11) خلیل، همېش، "پښتانۀ لیکوال" (اول ټوک)، اباسین پرنټنګ پرېس جنګي محله پېښور، جولائي، ۲۰۱۰ء، مخ ۱۸

12) میر عبدالصمد خان، "لوئے پشتون" (اردو)، یونیورسٹی بک ایجنسی خیبر بازار پشاور، س ن، ص 416

13) خلیل، همېش، "د قلم خاوندان"، ملت اېجوکېشنل پرنټرز لاهور، ۱۹۹۹ء، مخ ۵۰۶-۵۰۷

14) رشتین، پوهان صدیق الله، "د پښتو نثر هنداره"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، س ن، مخ ۲۷۰، ۲۸۰

15) صابر، محمد شفیع، "شخصیاتِ سرحد"، یونیورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور، س ن، مخ ۳۹۸

16) همدغه اثر، مخ ۳۹۸

17) داؤد، داور خان، "حمزہ شینواری کا ایک مطالعہ"، جدون پریس پشاور، 1996ء، ص 25

[18]) همدغه اثر، مخ ۲۵

[19]) فصیح الدین، پی-ایس-پی، "صحراں میں آذان، (خامہ بہ جوش)"، ریسرچ لائبریری پشاور، فرمان منزل بالمقابل فاٹا سیکرٹریٹ ورسک روڈ پشاور، اشاعت سوم، مئی 2017ء، ص255

[20]) پُردل خان، حاجي، "ديوانِ خوشحال خان خټک (حصه اول"، جدون پرېس پېښور، س ن، مخ ۲۰

[21]) رضا، محمد افضل، پروفیسر، "(اُردو ادب کی قدیم) پشتو شعراء"، ملت ایجوکیشنل پرنٹرز لاہور، 1998ء، ص۱۲۱

[22]) صابر، محمد شفيع، "شخصياتِ سرحد"، يونيورستي بُک اېجنسي خيبر بازار پېښور، س ن، مخ ۳۹۸

**Roman Halwalajat**


1) Maghmoom, Yar Muhammad, Dr., Professor. “Khattak” sara Maraka. Peshawar University, Pashto Academy. Date: 09-08-2019.
2) Fasihuddin, PSP. “Sahra Mein Azan (Khama Ba Josh).” Research Library Peshawar, Farman Manzil, Opposite FATA Secretariat, Warsak Road, Peshawar. 3rd Edition, May 2017, p. 255.
3) Reshtin, Pohan Sadiqullah. “Da Pashto Nasr Hindara.” University Book Agency, Khyber Bazar, Peshawar, n.d., pp. 297–298.
4) Sabir, Muhammad Shafi. “Shakhsiyat-e-Sarhad.” University Book Agency, Khyber Bazar, Peshawar, n.d., pp. 397–398.
5) Khalil, Hamesh. “Pakhtana Likwal” (Vol. 1). Public Art Press, Peshawar, April 1961, p. 6.
6) Khalil, Hamesh. “Pakhtana Likwal” (Vol. 1). Abasin Printing Press, Jangi Mohallah, Peshawar, July 2010, p. 2.
7) Ibid., pp. 20–23.
8) Khalil, Hamesh. “Pakhtana Likwal” (Vol. 1). Abasin Printing Press, Jangi Mohallah, Peshawar, July 2010, pp. 19–20.
9) Raza, Muhammad Afzal, Professor. “(Urdu Adab Ki Qadeem) Pashto Shu‘ara.” Millat Educational Printers, Lahore, 1998, p. 121.
10) Sabir, Muhammad Shafi. “Shakhsiyat-e-Sarhad.” University Book Agency, Khyber Bazar, Peshawar, n.d., p. 397.
11) Khalil, Hamesh. “Pakhtana Likwal” (Vol. 1). Abasin Printing Press, Jangi Mohallah, Peshawar, July 2010, p. 18.
12) Mir Abdul Samad Khan. “Loye Pakhtun” (Urdu). University Book Agency, Khyber Bazar, Peshawar, n.d., p. 416.

13) Khalil, Hamesh. “Da Qalam Khawandan.” Millat Educational Printers, Lahore, 1999, pp. 506–507.
14) Reshtin, Pohan Sadiqullah. “Da Pashto Nasr Hindara.” University Book Agency, Khyber Bazar, Peshawar, n.d., pp. 270, 280.
15) Sabir, Muhammad Shafi. “Shakhsiyat-e-Sarhad.” University Book Agency, Khyber Bazar, Peshawar, n.d., p. 398.

16) Ibid., p. 398.
17) Dawood, Dawar Khan. “Hamza Shinwari Ka Aik Mutala.” Jadoon Press, Peshawar, 1996, p. 25.
18) Ibid., p. 25.
19) Fasihuddin, PSP. “Sahra Mein Azan (Khama Ba Josh).” Research Library Peshawar, Farman Manzil, Opposite FATA Secretariat, Warsak Road, Peshawar. 3rd Edition, May 2017, p. 255.
20) Purdil Khan, Haji. “Diwan-e-Khushhal Khan Khattak” (Hissa Awwal). Jadoon Press, Peshawar, n.d., p. 20.
21) Raza, Muhammad Afzal, Professor. “(Urdu Adab Ki Qadeem) Pashto Shu‘ara.” Millat Educational Printers, Lahore, 1998, p. 121.
22) Sabir, Muhammad Shafi. “Shakhsiyat-e-Sarhad.” University Book Agency, Khyber Bazar, Peshawar, n.d., p. 398.